# مطبـــوعـــاتی اعـــلامیـــه

۱۵ اپریل ۲۰۱۱ میلادی

## د بودیجې کمښت د میلیونونو بیوزله افغانانو سره د خوړو مرستې ګواښوي

**روم** – د ملګرو ملتونو نړیوال خوراکي پروګرام (**WFP**) په بیړنی توګه ۲۵۷ میلیونو ډالرو ته د دې لپاره اړتیا لري ترڅو د ۷.۳ میلیونه بیوزله او د خوړو له پلونه ناامنه افغانانو سره د خوړو او نورو مرستو لړۍ ته ادامه ورکړي چې موخه یې عمدتاً د ښځو او ماشومانو څخه ملاتړ دی.

په افغانستان کې د **WFP** نماینده ښاغلي لویي امبلو (**Louis Imbleau**) وویل "مونږ دا غوښته څکه کوو تر څو په تدارکاتو کې د پراخیدونکې خلا د بندولو لپاره غوره فرصت ولرو." هغه زیاته کړه "صحي تغذیه د دغه هیواد د پرمختګ لپاره یو بنسټ دی – په ځانګړې توکه د ماشومانو او د ډیرو زیانمنو لپاره."

سره لدې چې ډیر شمیر دولتونو په افغانستان کې د **WFP** څو کلن خوراکي مرستندویه عملیاتو سره سخاوتمندانه مرسته کړې، خو **WFP** د هغې بودیجې چې سږکال ورته اړتیا لری نیمایی په واک کې نلری.

د بودیجې د کمښت له کبله، تمه کیږي چې د جون په میاشت کې به د غنمو د مرستې په لړۍ کې سخت کمښت رامنځ ته شي چې په پایله کې به پر هغو میلیونو افغانانو چې د **WFP** او همکارانو لخوا یې ورسره مرسته کیدله بده اغیزه وکړي. غنم په افغانستان یو له اساسی خوراکي توکو څخه دي او تقریباً د **WFP** په ټولو فعالیتونو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي لکه خواړه د کار په بدل کې، مسلکي زده کړې او د ښځو او نورو اړینو ډلو لپاره د سواد د زده کړې پروګرامونه او د خوړو بیړنی ویشل. د غوړیو او دانو کمښت به یوپربل پسې د جون او اګسټ په میاشتو کې رامنځ ته شي.

د نورې بودیجې ورکولو پرته، **WFP** به دې ته اړ شي چې د جون په میاشت کې په ښوونځیو کې د تغذیې د فعالیتونو کچه نیمایی ته را کښته کړي چې دا کار به د یو میلیون څخه پر ډیرو ښوونځی ته تلونکو ماشومانو بده اغیزه ولري.

د مخصوصو خوړو په تولید کې کمښت هم **WFP** دې ته اړ کړې ترڅو د هغو کوچنیانو سره چې عمر یې د پنځو کلونو څخه کم وي خپلې میاشتینی مرستې د ۶۲۰۰۰ څخه شاوخوا ۴۰۰۰۰ ته راکښته کړي. اساسی تغذیه د ژوند په لومړیو کلونو کې خورا اړینه وی هغه وخت چې سالمه تغذیه د پرمختګ لپاره لازمی وی.

د نړیوالې ټولنې د بیړني او پیاوړي مالي ملاتړ څخه پرته، د اګسټ تر میاشتې به د **WFP** پاتې خوراکي توکي تمام شي او دې ته به اړ شي چې د خپلو مرستندویه عملیاتو په یوه برخه کې کمښت او یا ځنډ راولي.

په افغانستان کې د مالي مرستې د ترلاسه کولو څخه تر هغه مهاله چې وړو کسانو ته رسیږي له ۲ څخه تر ۳ میاشتو پوری وخت نیسي. که چیرې نوې مالي مرستې ژرترژره ونه ګمارل شي، کیدای شي چې خواړه

Via Cesare Giulio Viola, 68/70, 00148 Rome, Italy Telephone: +39 06 65131 Fax: +39 06 6590632/7

په خپل وخت سره برابر نشي. **WFP** د بسپنه ورکوونکو هیوادونو څخه د دې لپاره د عاجلې مالي مرستې غوښتنه کوي ترڅو د هیواد دننه او په سیمه کې د خوړو رانیول پیل کړي او پدې سره وکولای شي په تدارکاتو کې دغه ریښتینی خرابوونکی کمښت راټیټ کړي.

**WFP** د ۱۹۶۳ میلادی کال راهیسې په افغانستان کې کار کوی، او پلان لري چې سږکال د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې شاوخوا ۷.۳ میلیونه خلک تغذیه کړي.

\# \# \#

**WFP** د نړۍ په کچه یو لوی بشری سازمان دی چې د لوږې پرضد مبارزه کوي. په ۲۰۱۰ کال کې **WFP** په ۷۳ هیوادونو کې د ۹۰ میلیونو څخه زیات وګړي تغذیه کړل.

**WFP** اوس د **RSS** د خدمت په وړاندې کولو سره ژورنالیستان د وروستیو مطبوعاتي اعلامیو، ویډیوګانو او انځورونو په اړه لکه څنګه چې په **WFP.org** کې خپرېږي خبر ساتي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره **http://www.wfp.org/rss** وګوری.

**WFP** په ایټالیا کې د **ISDN** یو ځانګړې لیکه د **WFP** د مامورینو سره د دوه اړخیزو مرکو لپاره لري.

**د لازیاتو معلوماتو لپاره:**
**چالیس مکدونا،** WFP **کابل، موبایل** 116 662 797(0)93+ ، **ایمیل:** Challiss.McDonough@wfp.org
**اسدالله ازهری،** WFP **کابل، موبایل** 190 662 797(0)93+ ، **ایمیل:** Assadullah.Azhari@wfp.org